بسم الله الرحمن الرحیم

د افغـــــانستان اســـــلامي امـــــارت

د ارشـــــاد، حج او اوقـــــافو وزارت

د مساجدو او حُسَینیو د ارشاد او انسجام لوی ریاست

# د زلزلو د راتللو اسباب او د زلزلو پر وخت د مسلمانانو مسئولیت

**الحمدلله والصلاة والسلام علی رسول الله (صلی الله علیه وسلم) أمابعد:**

**درنومسلمانو او عزتمنو حاضرینو!**

**السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.**

څو ورځې مخکې مونږ او تاسې په مشرقي ولایاتو کې (کنړ، ننګرهار او لغمان) د سختې او شدیدې زلزلې شاهد وو، چې په زرګونو کورونه یې د خاورو سره خاورې کړل او زمونږ او ستاسې هیوادوال په کې شهیدان شول، تنکي ماشومان په کې وفات شول، د پاخه عمرونو خلک سپین ږیري په کې د خاورو لاندې شول او شهیدان شول.

دا د الله جل جلاله له خوا پر مسلمانانو باندې عذاب او لوی امتحان وو.

د افغانستان اسلامي امارت دغه حادثه او غمیزه له نږدې څاري او اسلامي امارت د زیانمنو مشکلاتو ته د رسیدو لپاره اړوندو ملکي او نظامي ادارو ته پروخت او لازمې لارښوونې او سپارښتنې کړې دي او د اسلامي امارت وسائل او مجاهدین د خلکو د خدمت لپاره شپه او ورځ زیار باسي . دافغانستان اسلامي امارت د هیوادوالو په هر غم او درد کې ځان شریک بولي او د زیانمنو خلکو مشکلاتو ته رسیدګي خپل ایماني او اسلامي مسئولیت ګڼي.

زلزلې د الله تعالی د عذابونو څخه خطرناک عذاب دی چې د سترګو په رپ کې نړۍ له منځه وړي او هرڅه نابودوي. تیرو امتونو به چې د الله تعالی څخه سرکشي وکړه الله تعالی به په زلزلو سره هلاک کړل. الله تعالي دصالح علیه السلام قوم او د شعیب علیه السلام قوم په زلزله او چغه باندې هلاک کړي ؤ.( فَأَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَةُ فَأَصْبَحُوا فِي دَارِهِمْ جَاثِمِينَ ) [الأعراف: ۷۸]

ترجمه: پس و نیول دوی زلزلې (پس له اوربدلو د سختې چیغې) نو وګرځېدل دوی (ګهیځ ،سهار)په کورونو خپلو کې مړه پړمخې پراته.

امام بغوی رحمه الله د (فَأَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَةُ ) په تفسیر کې لیکي: رجفه د ځمکې زلزلې او حرکت ته ویل کیږي او د صالح علیه السلام قوم په زلزله او په چغه باندې هلاک شوی وو. تفسیر البغوي (۳ /۲٤۸)

دُنیوي زلزلې د آخرت د لویو زلزلو یو انځور او تصویر دی چې الله تعالی یې خپلو بندګانو ته ور ښایي، لکه چې الله جل جلاله فرمایلي دي: إِذَا زُلْزِلَتِ الْأَرْضُ زِلْزَالَهَا * وَأَخْرَجَتِ الْأَرْضُ أَثْقَالَهَا * وَقَالَ الْإِنْسَانُ مَا لَهَا * يَوْمَئِذٍ تُحَدِّثُ أَخْبَارَهَا * بِأَنَّ رَبَّكَ أَوْحَى لَهَا * يَوْمَئِذٍ يَصْدُرُ النَّاسُ أَشْتَاتًا لِيُرَوْا أَعْمَالَهُمْ * فَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ * وَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَرَهُ ) [الزلزلة: ۱ - ۸]

ترجمه : کله چې و خوځوله شي ځمکه په خوځیدلو سختو خپلو سره او د باندې راوباسي ځمکه درانه شیان له خپله منځه او وبه وایي انسان چې څه شوي دي دغه (ځمکې) لره (چې د باندې را وباسي مدفون خپل) په دغې ورځې کې وبه وايي بیانوي به ځمکه خبرې خپلې (خلقو ته که د خیر وي که د شر)په سبب د دې چې رب ستا وحي امر حکم کړی دی دې ته (په ویلو بیانولو سره). په دغې ورځې کې به وګرځي خلک ټولي ټولي (له موقف یا له قبورو نه په مختلفو اشکالو سره) لپاره د دې چې وښودله شي هغوی ته (جزاء د ) عملونو د دوی. پس هغه څوک چې عمل کوي په اندازه د یوې ذرې د خیر نیکی نو وبه وینې (جزاء د هغه) او هر هغه څوک چې عمل کوي په اندازه د یوې ذرې د شر بدی نو وبه ویني (سزا د هغه).

زلزلې الله تعالی د خپلو بندګانو د ویرولو لپاره رالیږي ترڅو دوی له ګناهونو، جرمونو، ظلمونو څخه توبه وباسي او خپل رب ته رجوع وکړي. لکه چې الله تعالی فرمایلي دي: (وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا إِلَى أُمَمٍ مِنْ قَبْلِكَ فَأَخَذْنَاهُمْ بِالْبَأْسَاءِ وَالضَّرَّاءِ لَعَلَّهُمْ يَتَضَرَّعُونَ * فَلَوْلَا إِذْ جَاءَهُمْ بَأْسُنَا تَضَرَّعُوا وَلَكِنْ قَسَتْ قُلُوبُهُمْ وَزَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطَانُ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ) [الأنعام: ٤٢، ٤٣].

ترجمه: او خامخا په تحقیق استولي وو مونږ (رسولان) ډېرو امتونو ته پخوا له تانه (ای محمد! پس دوی تکذیب وکړ د هغوی) نو ونیول مونږ دوی په سختیو او تکلیفونو سره لپاره د دې چې دوی زاري عاجزي وکړي (خپل رب ته او مؤمنان شي) کله چې راغی دوی ته عذاب زمونږ نو ولې عاجزي ونه کړه دوی (چې ترې لرې شوی وی عذاب) او لیکن سخت شوي وو زړونه د دوی (نو ځکه یې ترې عبرت وانخیست)او ښایسته کړي وه دوی ته شیطان هغه کارونه چې کول به یې.

په یو بل آیت کې راځي: {أَمْ حَسِبْتُمْ أَنْ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ وَلَمَّا يَأْتِكُمْ مَثَلُ الَّذِينَ خَلَوْا مِنْ قَبْلِكُمْ مَسَّتْهُمُ الْبَأْسَاءُ وَالضَّرَّاءُ وَزُلْزِلُوا حَتَّى يَقُولَ الرَّسُولُ وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَهُ مَتَى نَصْرُ اللَّهِ أَلَا إِنَّ نَصْرَ اللَّهِ قَرِيبٌ}[البقرة: ٢١٤].

ترجمه: آیا تاسو دا ګمان کوئ چې جنت ته به داخل شئ حال داچې پر تاسو باندې لا تر اوسه د هغو خلکو حالت نه دی راغلی چې له تاسو نه مخکې تیر شوي دي ، هغوی ته سختي او بیماري رسیدلی وې او لړزول شوي ؤ تر دې چې رسول او له هغه سره ایمان راوړونکو به وویل: دالله مدد به کله راځئ؟ خبردار شئ یقینا دالله مدد ډېر نژدې دی.

نو د مسلمان مسئولیت دادی چې په دې مشقتونو صبر وکړي او خپل ایمان په عمل کې ثابت کړي او د الله تعالی څخه د مرستې او فتحې یقین ولري.

## د زلزلو راتللو اسباب:

١- زلزلې راتلل په دې دنیا کې مسلمانانو ته عذاب دی . په حدیث شریف کې راځي: عَنْ أَبِى مُوسَى قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « أُمَّتِى هَذِهِ أُمَّةٌ مَرْحُومَةٌ لَيْسَ عَلَيْهَا عَذَابٌ فِى الآخِرَةِ عَذَابُهَا فِى الدُّنْيَا الْفِتَنُ وَالزَّلاَزِلُ وَالْقَتْلُ ». سنن أبى داود-ن (٤ /١٦٩)

ژباړه: دابو موسی اشعري رضي الله عنه څخه روایت دی ، هغه وایې چې نبي علیه السلام وفرمایل: زما دا امت مرحوم (رحم ورباندې کړی شوی) امت دی، نشته په دې امت باندې په آخرت کې بل (سخت) عذاب او ددې امت عذاب په دنیا کې فتنې دي او زلزلې دي او (یو بل) وژل دي.

٢- په دنیا کې پر مسلمانانو زلزلې د ګناهونو، د الله تعالی د اوامرو څخه د سرکشۍ او په ځمکه کې د مختلفو جرمونو په وجه راځي. په یو روایت کې راځي: (عن محمد بن عبد الملك بن مروان أن الأرض زلزلت على عهد رسول الله صلى الله عليه وسلم فوضع يده عليها ثم قال اسكني فإنه لم يأن لك بعد ثم التفت إلى أصحابه فقال إن ربكم يستعتبكم فاعتبوه ثم زلزلت بالناس في زمن عمر بن الخطاب فقال أيها الناس ما كانت هذه الزلزلة إلا عن شيء أحدثتموه والذي نفسي بيده لئن عادت لا أساكنكم فيها أبدا). مصنف ابن أبي شيبة (٢ /٣٥٧)، العقوبات، لأبن أبي الدنيا (ص: ٥)

ژباړه: د محمد بن عبدالملک بن مروان څخه روایت دی هغه وایي یوځل ځمکه زلزلې ونیوله د نبي علیه السلام په زمانه کې ، نبي علیه السلام په ځمکې لاس مبارک کیښود او ورته یې وویل: ارامه شه، بیشکه لا تر اوسه نږدې شوی نه دی وخت .بیا یې صحابه کرامو ته مخ راواړولو او

ورته يې وويل: بيشکه رب ستاسې تاسې تنبيه کوي ،نو متوجه شئ. بيا څمکه زلزلې ونيوله د حضرت عمرفاروق رضي الله عنه په خلافت کې.
حضرت عمر رضي الله عنه خلکو ته وويل: دا زلزلې نه راځي مگر د يو شي په وجه راځي چې تاسې هغه نوی پيدا کړی دی(يعنې گناه مو کړې ده) .قسم په هغه ذات چې زما نفس د هغه په اختيار کې دی که چيرې بيا زلزله وشوله، بيا زه له تاسې سره نه اوسيږم په مدينه منوره کې هيڅکله.
۳-زلزلې کله ناکله د مسلمانانو د راويښولو په خاطر راځي، ترڅو مسلمانان له غفلت څخه راويښ شي او خپلو خطاگانو ته متوجه شي او له گناه څخه لاس په سر شي ، الله تعالى ته رجوع وکړي او توبه وباسي.الله تعالى فرمايلي دي:{ وَلَقَدْ أَرْسَلنَآ إِلَىٰ أُمَمٍ مِّن قَبْلِكَ فَأَخَذْنَاهُمْ بِالْبَأْسَاءِ وَالضَّرَّاءِ لَعَلَّهُمْ يَتَضَرَّعُونَ} الانعام: (٤٢)
ترجمه: او يقينا مونږ پيغام ليږلی ؤ له تانه مخکې امتونو ته بيا مونږ هغوی په سختيو او تکليفونو کې واچول ددې لپاره چې هغوی عاجزي وکړي.
**د زلزلو پر وخت بايد مسلمانان لاندې کارونه وکړي :**
۱-الله تعالى ته زياته تضرع، عاجزي او خپل حاجت هغه ته وړاندې کول: کله چې په مسلمانانو زلزلې راشي، بايد الله تعالى ته ډيره عاجزي، تضرع او فرياد وکړي او زياتې دعاگانې وغواړي ترڅو الله تعالى ورباندې رحم وکړي او دغه مصيبت ورڅخه لرې کړي. الله تعالى فرمايلي دي:{وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُونِي أَسْتَجِبْ لَكُمْ}[غافر: ٦٠].
ترجمه: او ستاسو رب فرمايي تاسو ما وبلئ چې زه ستاسو دعا قبوله کړم.
۲-استغفار ويل، توبه ويستل او الله ته رجوع کول: کله چې پر مسلمانانو زلزلې راشي، نو مسلمانانو لره په کار دي چې استغفار ووايې او الله ته توبه گار شي. الله جل جلاله فرمايلي دي: وَمَا كَانَ اللَّهُ مُعَذِّبَهُمْ وَهُمْ يَسْتَغْفِرُونَ}[الأنفال: ٣٣].
ترجمه: او الله دوی ته عذاب ورکوونکی نه دی په داسې حال کې چې دوی ښنه (استغفار) غواړي.
ترڅو پورې چې بنده استغفار وايي نو دی به دالله تعالى له طرفه په امان کې وي.
د مصيبتونو پر وخت به رسولانو خپلو امتونو ته داسې توصيه کوله: {وَيَا قَوْمِ اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوبُوا إِلَيْهِ يُرْسِلِ السَّمَاءَ عَلَيْكُمْ مِدْرَارًا وَيَزِدْكُمْ قُوَّةً إِلَىٰ قُوَّتِكُمْ وَلَا تَتَوَلَّوْا مُجْرِمِينَ}[هود: ٥٢].
نوح عليه السلام خپل قوم ته وويل: ( فَقُلْتُ اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ إِنَّهُ كَانَ غَفَّارًا *يُرْسِلِ السَّمَاءَ عَلَيْكُمْ مِدْرَارًا * وَيُمْدِدْكُمْ بِأَمْوَالٍ وَبَنِينَ وَيَجْعَلْ لَكُمْ جَنَّاتٍ وَيَجْعَلْ لَكُمْ أَنْهَارًا}[نوح: ١٠-١٢].
که چيرې مسلمانان د وچکالۍ او قحطۍ په ازمېښت کې مبتلا وي ، نو بايد چې د استسقاء لمونځونه وکړي، صدقات او خيراتونه وکړي.
حضرت عمر بن عبدالعزيز رحمه الله ولاياتو او ښارونو ته وليکل:( أما بعد؛ فإن هذا الرجف شيء يعاتب الله عز وجل به العباد، وقد كتبت إلى الأمصار أن يخرجوا في يوم كذا وكذا، في شهر كذا وكذا، فمن كان عنده شيء فليتصدق به، فإن الله عز وجل يقول: {قد أفلح من تزكى - وذكر اسم ربه فصلى} [سورة الأعلى: ١٤ - ١٥]. وقولوا كما قال آدم: {ربنا ظلمنا أنفسنا وإن لم تغفر لنا وترحمنا لنكونن من الخاسرين} [سورة الأعراف: ٢٣]. وقولوا كما قال نوح: {وإلا تغفر لي وترحمني أكن من الخاسرين} [سورة هود: ٤٧]. وقولوا كما قال يونس: {لا إله إلا أنت سبحانك إني كنت من الظالمين} [سورة الأنبياء: ٨٧]. اهـ.
ژباړه: امابعد: دا زلزلې يو شی دی چې الله تعالى ورباندې بندگان مواخذه کوي او ولايتونو ته يې وليکل چې په يو فلانی ورځ په فلانی مياشت کې له کورونو راووځئ ، له چا سره چې څه شی وي ،نو هغه دې خيرات کړي ځکه الله جل جلاله فرمايي: {قد أفلح من تزكى - وذكر اسم ربه فصلى} [سورة الأعلى: ١٤ - ١٥]. او هغه دعاء وغواړئ کومه دعاء چې حضرت آدم عليه السلام غوښتلې وه: {ربنا ظلمنا أنفسنا وإن لم تغفر لنا وترحمنا لنكونن من الخاسرين} [سورة الأعراف: ٢٣]. او هغه دعاء وغواړئ کومه دعاء چې حضرت نوح عليه السلام

غوښتلې وه: {وإلا تغفر لي وترحمني أكن من الخاسرين} [سورة هود: ٤٧]. او هغه دعاء وغوارئ کومه دعاء چې حضرت یونس علیه السلام غوښتلې وه: {لا إله إلا أنت سبحانك إني كنت من الظالمين} [سورة الأنبياء: ٨٧]. اهـ.
كعب الاحبار رضي الله عنه وايي:(إنما تزلزل الأرض إذا عُمِلَ فيها المعاصي، فترعد فَرَقًا من الرب جل جلاله أن يطلع عليها).
ژباړه: بیشکه ځمکه هغه وخت زلزله نیسي کله چې په ځمکه کې ګناهونه وشي ، نو ځمکه لړزه وینسي د الله تعالی د ویرې څخه چې الله تعالی وربانديې خبرشي.
٣-صبر کول، د ثبات څخه کار اخيستل او رضا بالقضاء: کله چې پر مسلمانانو زلزلې راشي ؛ نو په کار ده چې مسلمانان له صبر او استقامت څخه کار واخلي او له جزع او فزع څخه ځانونه وساتي.
٤- په عبادت کې کوښښ کول او عبادت ته توجه زیاتول: الله تعالی فرمایلي دي:{فَإِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا * إِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا * فَإِذَا فَرَغْتَ فَانْصَبْ * وَإِلَى رَبِّكَ فَارْغَبْ}[الشرح: ٥-٨].
ترجمه:نو بیشکه له سختی سره اساني شته ، بیشکه له سختی سره اساني شته، نو کله چې ته فارغ شې نو (په عبادت کې) ځان ستړی کوه او خاص خپل رب ته رغبت (او زاري) کوه.
په دې سورت کې الله تعالی د آسانۍ وعده کړی ده پس له سختۍ څخه لیکن په یو شرط سره چې هغه په عبادت کې کوښښ کول دي او ځان په سجدو کې ستړی کول دي.
حافظ ابن کثیر وایي: (أي: إذا فرغتَ من مهامِّك فانصَبْ في طاعته وعبادته). کله چې د خپل کارونو څخه فارغ شوی نو ودریږه دالله په طاعت او عبادت باندې .
(عن الحسَن قال: خرج النبي -صلى الله عليه وسلم- يومًا مسرورًا فرحًا وهو يضحك، وهو يقول: لن يَغلِب عسرٌ يسرَيْن، لن يَغلِب عسرٌ يسرَيْن: {فَإِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا * إِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا}. تفسير ابن كثير (٨/ ٢٥٥).
د حسن بصري رحمه الله –موقوفا- روایت دی هغه وایي چې یو ځل رسول الله صلی الله علیه وسلم راو وتلو په داسې حال کې چې خوشحاله ؤ او هغه خندل او داسې يي وویل: هیڅکله به غالب نشي یوه سختي په دوه اسانیو باندې ، هیڅکله به غالب نشي یوه سختي په دوه اسانیو باندې بیا دا آیت ولوستلو: {فَإِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا * إِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا}.
٥-په هرحالت کې د الله تعالی څخه ویره او تقوی اختیارول: تقوی د ټولو مصیبتونو او عذابونو څخه د خلاصون لار ده. الله تعالی فرمايلي دي:{وَمَنْ يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَلْ لَهُ مَخْرَجًا * وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ وَمَنْ يَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ فَهُوَ حَسْبُهُ }[الطلاق: ٢، ٣].
ترجمه: او هغه څوک چې د الله نه وویریږي (نو) هغه به دده لپاره د وتلو څه ځای پیدا کړي او ده ته به له هغه ځای رزق ورکړي چې دی به ګمان هم نه کوي او هغه څوک چې په الله باندې توکل وکړي نو همدی دده لپاره بس (او کافي ) دی.
په یو بل آیت کې يي داسې وعده کړی ده: {وَمَنْ يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَلْ لَهُ مِنْ أَمْرِهِ يُسْرًا * ذَلِكَ أَمْرُ اللَّهِ أَنْزَلَهُ إِلَيْكُمْ وَمَنْ يَتَّقِ اللَّهَ يُكَفِّرْ عَنْهُ سَيِّئَاتِهِ وَيُعْظِمْ لَهُ أَجْرًا}[الطلاق: ٤، ٥].
ترجمه: او هغه څوک چې له الله نه و ویریږي هغه به دده لپاره په کار کې ډېر اساني پیدا کړي دغه دالله حکم دی چې تاسو ته يي دغه نازل کړی دی او هغه څوک چې له الله نه وویریږي هغه به له ده نه دده ګناهونه لرې کړي او دده لپاره به اجر ډېر لوی ورکړي.
**همدارنګه د افغانســتان اسلامي امارت خلکو ته توصیه کوي چې د زلزلو پروخت باید یو د بل ترڅنګ ودریږو ، یو بل ته لاس ورکړو او د زلزله ځپلو خلکو لاس نیوی وکړو ، او د هغوی سره هر ډول مالي مرسته وکړو او هغوی ته د رسیدلي مالي زیان د کمولو او یا بیرته اعاده کولو او آبادولو کې هیڅ ډول مرسته ونه سپموو.**

**والسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.**